
**لیکونکی** : چوک چرچیل(Chuck Churchil).
**منبع اود خپریدو نیټه** : کونتر پانچ «27-11-2020».
**ژباړونکی** : پوهندوی دوکتور سید حسام «مل» .

---

# کارل مارکس وڅاری

## Lookout for Karl Marx!



دعکس نیولو منبع : David Merret CC By 2.0

**ما رکس** خپل ټول تحلیلونه او نیوکي د پانګوالي (سرمایه داری) په اړه ، یوسل وپنځوس کا له د مخه لیکلي وو. پا نګوالوله همغه وخته را هیسی دهغه سیستم په لرلو اودهغه څخه په د فاع او سا تنه کي ډیر وخت کار کا وه اوله تر اوسه پوری کا ر کوی چی د دی سیستم په ارزونه کي د هغه ښکاره عیبونه په تخنیکی اویا په یو اوبل شکل دخلکو له نظره پټ کړی یا د هغه پر عیبونو باندي برغولی کیږدی ، کارګره طبقه په کار وګماری یا هغوی دخپل بردګانو په بڼه کار ته ا ستخدام کړی اودهغه طبقی دکاراوداضافی کارڅخه سود او ګټی ترلاسه کړي .زمونږ دسوداګری لوی حاکمان یا زورواکان د «**مارکس**» د نظریاتواواستراتیژیو په وړاندي د خلکوپه ګوښه کولو اودهغود نظریا توپه مغشوشولو کي په دولتی ځواک اوپه ډله ایز رسنیو کي خپل ا نحصا ر کا رولي دي . کوم چي په تا ریخي ډول د نړی په کچه د کارګرو اودهغوی د متحد ینو د بی لاری یا د ګمراهی د تنظیمولو لپا ره کا رونه تر

سره کړي دي ، کوم چي په دي توګه يي دپانګي دغير مشروع نه کنترول شوی ځواک يا قدرت له ګواښ يا تهد يد څخه وژغوري ، اويا ددی ګواښ دشد ت په را ټيټولو کي هڅی او اند تر سره کړي .

زمونږ سازمانـي حاکمان هڅه کړي تر څو چي د «مارکس» نظريات يا عقايد په يو لړ خپل جوړونکی تيوريو سره غلط اودزمانی دحالاتو سره په تقابل کي بی بنيا د ښکاره کړي يا د«مارکس » د نظريا تو محتوی يا غوړ چاندی ته بل رنګ اوشکل ورکړي ، نو که چيری دا داسی وی ،نو بيا ولي دا بحثونه د بحث او مباحثی لپاره په پراخه کچه د وړاندی کولو څخه ډډه کوی ؟ يا چی نه پريږدی چي په آزاد بڼی سره بر نوموړی نظرياتو باندی کره بحثونه تر سره شي ؟ په هر صورت آيا مونږ دلته په استثنايی متحده ايالاتو کي ( دموکراسی) او (آزاده وينا) نه لرو ؟ آيا زمونږ دزده کړي سيستم دنظرونو بازار نه دي ؟

زمونږ حاکمان اويا حکومتيان به هيڅکله هم د پوره پوهاوی په لرلو سره به د مارکسزم دزده کړي او پوهيد لو لپاره به زمينه مساعد نکړي اود مارکسزم په وړاندی خپل ګواښ او زورزياتی ته به په شيطا نـی بڼی سره دوام ورکړي ، دا په حقيقت کي که چيری مونږ د پوره آزادي په لرلو سره د پانګوالو د « آزاد تشبثی کړنـی » سيستم په دوامدار عمليا تو با ندی پوه شو ياهغه درک کړو نو ويلی شو چي د پانګوالی دغه موجوده رامينځته شوی تاسيسات د کارګری طبقی دکار محصول دی چي د شرکتونو د خا وندانو په اخيتيا ر کي راغلی يا ترلاسه شوی کوم چي نن ددي شرکتونو د خا وندانو پر له پسی ما تـی دنړي په سر تا سر کي په سترګو کيږي . نو د دی اصل په نظر کي نيولو سره ولی اوس داسی دي چي مونږ ته دښی اړخ له طرفه ما رکسزم ته بلنه ورکول کيږي يعنی هغه بلنه کوم چي تولنه د «دونالد ترامپ » تر مشری او زعامت لاندی دی يعنی د هغه چا تر مشری لاندی چي ناولی چلند کوی اوهغه هم په واقعی معنی سره چی هر هغه څوک چی خپل ګټی دنژاد پرستی اود فاشيسزم سره په مبارزه کي وينی تر شديد ګواښ لاندي پريوځي . دبلی خوا څخه د دموکرات ګوند « سناتورانو » هم دخپلو ناکاميو او ما تی لپاره د (سوسياليزم) په توجيه کول اود هڅی او اند په تر سره کولو سره غواړی ځان وزن کړي ؟ آيا دا دحاکمی طبقی دبخار دکټوی د سور بخن برغولی اېښودنه دکارګرانو يا دکارګری طبقی پر غوښتنو اود ژوند دشرايطو پربهبودی با ندی نه دي؟ مونږ دا هرڅه لا دمخه ليدلی : لکه دشلمی ليسزی په جريان کي چي د ( پالمر دولت) کمونستا نو په وړاندي وروسته د لمړی نړيوال جګړي څخه دمهاجرو کارګرانو په وړاندی دخپل طبقی د ګټو دخوندی سا تلو لپاره په يو لړ ضد کارګری کړنـی لاس پوری کړ چي لا تراوسه په خاطرو کي پا تی دي يا داچي کله د روسيې انقلابونه دبانکدارانو زړونوکی ويره را پارولي اولوی سوداګر بيا د«مک کارتيزم (McCarthrism) سره ددوهمی نړيوالی جګړي وروسته کوم چي دلوی فشا ر په دوران کي دکارګرو لاسته راوړنـي باندي پانګوالو بريد پيل کړ چي لا تراوسه نن هم دوام لري ژوند مثا لونه دي او اوس هم کله چي کارګران يو ځل بيا د يو بل پا نګوا لي بحران څخه دخپل ځا ن د دفاع په لټه کی دی ، نو سرما يه دارانو نړی داتومی جګړي اودنړيوال اقليم د بدلون دنا ورين په لومه کي غورځوی کوم چی ددی ډول ګواښونه تحريک کونکي دي.

په د ي وروستيو کي ، **کاونترپينچ** د **پيتر لاين بوک** (Peter Linebaugh) لخوا يوه عالي او په زړه پوری مقا له خپره کړه ، چي د **مارکس** "د **ګوته برنا مي نقد**" با ندي متمرکز و .دا ما ته يو الهام دی ، (لکه څنګه چي دا عموما د **لاين بوک** کار دی) ، او ما دا د خبرو ګروپ کي خپلو ملګرو ته واستا وه چي زه يکي ګډون کوم ځکه چي ما فکر کا وه چي دا د **مارکس** نظرياتو غير متناسب استعمال کړی ترڅو ونښيي چي د بل لپا ره کا ر کولو کي څه اړتيا وه ا ود ښه نړی رامينځته کول ، زه هم دې کارته وهڅولم چي بيرته لاړ شم او هغه نيوکی يا انتقا دونه بيا ولولم ، کوم چي ما ( 40 ) کاله نه و لوستلی .دلته زه غواړم ېدي تجربه خپل ځينې انعکاس (واکنش) شريک کړم ، کوم چي زه اميد لرم چي

د« **مارکس** » کار دوام او اهمیت باندې تېنګار کولو کې مرسته وکړي ، او نور به وهڅوي چې هغه ولولي.

د **ګوته برنامې نقد**" د **مارکس** لخوا لیکل شوی و (د انګلس لخوا د ملاتړ لیکونو سره) په 1875 کې. ما لوستلی او د کارل مارکس او فریډریش اینګلس ، دمنتحب جلد نړیوال ، خپرونکو ، 1968 (شپږم چاپ ، (1977، مخونه 4 314--44.) له مخونو څخه می یاداشتونه نقل قول کړي دي .

‹‹**مارکس**›› او‹‹ **اینګلس**›› د لسیزو راهیسې د آلمان کارګرانو سره کارکا وه ، په شمول دجلاوطنی کلونو سره ، د **ما رکس** نیوکی یا کریټیک په کال‹‹ 1875 ››کې د آ لما ن د سوسیا ل ډیموکراتیک ګوند (SPD)په توګه د آلمان د کارګرۍ طبقې سیاسي ډلو یووالي په غبرګون کې و. **ما رکس** او **انګلس** په دې قانع وو چې کارګران دپا نګې لاندې غلامان و ، او تل به وی؛ دا چې دوی د پا نګې یا دسرما یی حاکمیت پای ته رسولو لپاره سوسیالیست / کمونیستې انقلاب ته اړتیا لري ، او دا به یو نړیوال سیا سي خوځښت رامینځته کړي ، مګر هغه چې په غیر ضروري ډول جلا ملي ګوندونه ولري چې اړتیا لري د داخلي ستراتیژیو جوړولو لپاره ، د "خپلو" هیوادونو شرایطو سره معا مله وکړي. . دوی دا هم فکر کاوه چې پانګوالو د ملي هویت مفکورې د خپلو اهدافو لپاره وکارولې ، پدا سې حال کې چې کارګران د نړۍ په هر ځای کې د سرمایه ګذاري له کنټرول سره مخ وو او له همدې امله هیڅ یو هم هیواد نه لري. په حقیقت کې ، کارګران باید د پانګوالي نړۍ بازار او نړیوالې سیالۍ سره معامله وکړي. زموږ په خپل وخت کې موږ ولیدل چې د لوی پانګوونې لپاره دا خورا اسانه وه چې په ساده ډول هغه ځا یونو ته لاړ شئ چیرې چې کار ارزانه و ، او کارګران یې د لته لوږ او وچ یا لوڅ او لغړ پریږدي. څنګه د دې په څیر یو څه باید د نړیوال کاري کونکي پیوستون او همکارۍ بهر معامله شي؟

په« 1875» کې **، مارکس** او **انګلس** د اروپا په خورا پرمختللي پانګوالي هیوادونو کې د صنعت وده کولو په ځواب کې د سوداګریزو اتحادیو او سیاسي ګوندونو تنظیم کولو لپاره د کارګرانو مبارزو څخه ډېر څه زده کړل. لسیزې دمخه ، انګلیس د انګلیسي دکارګرۍ طبقی وضعیت په اړه لیکلي و ، او په« 1875 »کې یې په لنډه توګه ارزونه وکړه چې کارګرو اړتیا لري چې د دوی شرایطو په اړه څه کوي. پدې مقاله کې زه غواړم اجازه ورکړم چې **مارکس** او **انګلیس** د ځا ن لپا ره خبرې وکړي. یعنی چې خپله خبری وکړي انګلیس دلته دی: "د سیا سي عمل څخه بشپړ خلاصول ناممکن دي ... د ژوند د تجربې ژوند کول ، د موجوده دولتونو سیاسي فشا رونه کارګران دې ته اړ کوي چې ځان د سیاست سره ونښلی ، که دوی یې خوښوي یا نه ، دا د سیا سي یا ټولنیزو اهدافو لپا ره وي. دوی ته د سپکا وي تبلیغ کول دوی د بورژوازي سیاست غیږ کې اچول دي. د پا ریس **کمیون** ورروسته سهار ، چې د سیا سي پلوه سیا سي عمل یې د ورځې یوه حکم ګرځولی وه ،افشا کول په بشپړ ډول له پوښتنې لرې دي. موږ د طبقاتو ختمول غواړو. د دې د ترلاسه کولو وسیله څه ده؟ یوازینۍ وسیله د پرولتاریا سیاسي تسلط دی ... په هرصورت ، زموږ سیا ست با ید د کا رګری طبقی سیاست وي. د کارګر ګوند باید هیڅکله د هیڅ بورژوازي ګوند تاګیل«نښان» نه وي؛ دا باید خپلواک وي او خپلې موخې او خپله پالیسي ولري .

**انګلس** د **پا ریس** د **کمون** مثا ل را یاد کړ، کوم چې له « 1870» تر«1871» کِې پر فرانسی با ندې د آ لمان له خوا شد ید یرغل دفرانکو - پاریس په جګړه کې تر سره شو، چی په نتیجه کی **پا ریس** محا صره یا کلا بند شو، د **فرا نسي** دحا کمی طبقی رهبران په دی زمینه کی کوم د یا دونی وړ اقدام نکړ ، بلکه د **فرا نسی** کارګری طبقې د آ لمان ددی یرغل اودفرانسی د کلا بندی په وړاندې په مبارزه لاس پوری کړل ،کارګران وښودل چې هغوی کولی شي ، تولید ، توزیع اود پا ریس په د ننه دد فاع لپاره منظم سازماندهی ترسره کړي ، چی دهغی له جملې څخه بریا لي پروازونه له **پا ریس** څخه دباندې د آلما نیا نو پرضد وه ،کوم چی ورروسته دفرانسي حاکمی طبقی د آلمانیا نو سره

موافقه یا تړون وکړ چې فرانسوی ځواکونو ته اجازه ورکړی چې پاریس ته داخل شی اود فرانسی دکارګری طبقي سره وجنګیږی اود **پارس کمیون** رنګ او دری وری کړي ( لکه هغسی چې دفرانسی زرګونو کارګرانو په کال «1871» کي دخپل هیواد والو په لاس ووژل شول) البته چې «**مارکس**» له دی تجربی څخه درسونه زده کړ چې د کتا ب په همغه جلد کي د **فرا نسی** دداخلی جګړی په اړه لیکی .

**مارکس** په انتقادی نقد کی نسبت وهغه ځانګړی فارمولونه چی د اروپا دسوسیال دموکرات (SPD) ګوند درهبرانو دیو رهبر «**لاسا ل**» کوم چې «**مارکس**» او «**انګلس**» له پخوا دهغه دعقا ید و په وړاندی مبارزه کول ، بیان کړ . « **مارکس**» دغه ځانګړي فارمولونه نقل قول کوي او خپل نیوکی ته ادامه ورکوي ،د «**مارکس**» لپاره دواقعی حرکت هره پړاو له لسګونو برنامی څخه لا زیات اهمیت لري ، هغه ډیر پیچلي بحث رامینځته کوي کوم چې اسا ساً د کمونیستی انقلاب لپاره هم توضیحی اوهم توجیهی اړخ لری چې ددی تولو لوستنی هیڅ بد یل یا ځای نا ستی نه لری ، مګر زه به دلته څه وکړم ، هغه څه روښا نه کړم چې ځما په اند خورا مهم نظرونه دي اوماته اجازه راکړي چې «**مارکس**» خپله خبری وکړي.

هغه لمړنی کا ر چي « **مارکس**» هغه تر سره کوي دا دي چي د «**لاسال**» څرګندونی په ګوته کوی کوم چي هغه ویلی وه چي( **کا ر** ) دټولو شتمنی سرچینه ده ، دا هغه څه دي چي **پیټر لینبوک** (Peter Linbaugh) پرهغه باندي خپل مقا له پیل کوي چیری چی هغه یعنی « **پیټر**» د «**مارکس**» نظریاتو ددوامدار تړاو ښودلو لپاره لیکي : هغسی کوم چي « **مارکس** » وای یا لیکي : **کا ر** [ په ټولو کي د **ما رکس** املا یا هیجا] د ټول شتمنی منبع یا سرچینه نه ده ، بلکه یواځی په همغه اندازه چي د طبیعت په کار وړل د ارزشونو منشا لری ( کوم چی مطمیناً له هغی مادی ثروت څخه تشکیل شوی ) چي دکار دځواک «نیرو» په اندازه چي خپله یواځی د طبیعت ځواک ښکارندوی دانسانی دکا ر ځواک دي **یا د دری ژبي په عباراتو سره** [ **مارکس** **می نویسد: "کار[املا مارکس در کل] منبع همه ثروت نیست». طبیعت به همان اندازه منشأ ارزشهای استفاده است ( و مطمئناً از ثروت مادی نیز برخوردار است) به اندازه کار ، که خود تنها نمایانګر یک نیروی طبیعت ، نیروی کار ا نسا نی ا ست** ] بورژوازي د خپل غلط ادعا د توصیف لپا ره ښه زمینی لري د« **کا ر**» لپاره خورا طبعی تخلیقی «زیږونکي» ځواک [ قد رت خلاقیت ماورای الطبیعه برای **کا ر**] له هغه ځا یه چي دقیقاً ددی واقیعت په نظرکی نیولو سره چي «**کا ر**» طبیعت سره اړین دي . دا سی یا یلی تر لاسه کیږي چي سړی «انسان» بی دخپل کاری ځواک څخه پرته بل ملکیت نه لري نو با ید د نن ورځی ټولني اود هغه ټولني د کلتور دټولو شرایطو په نظر کي نیولو سره دنورو سړو (ا نسا نا ن) سره غلام یا برده شي چي خپل ځا ن ما لک ګرځولي دي ! کوم چي د« **کا ر**» دموادو شرایط ، هغه هم یواځی ددوی په اجا زه په کار ولوید لي شي یا کا رولی شي نو له دی امله یواځی ددوی ددی اجازی سره [ دلته **مارکس** په دي ټکی باندي زیات ټینګار کوي ] ژوند کوي .

«**مارکس**» هغه شرایط را څیری یا په ګوته کوي چي پانګوالي هغه شرایط ددولت اود نورو موسساتو یا دنهادونو د ځواک په لاس کي لرلو سره دکارګر پر طبقی با ندی تحمیل کوي ، چي دهغوشرایطویا زمینو څخه دخبرونوهغه اصلی ابزار «اطلاعات» کوم چي دحاکمی طبقي دایدیولوژی تحمیلول اویا ورته غاړه ایښودل دي .همدارنګه دغه پانګوال حاکمان د زور اود تاوتریخوالي د پکار وړلو انحصار لري چي هم دخپل سیالانو ( رقیبانو) دلو ټپلو سره په مبارزه کی اوهم دکارګرطبقی په محکوم کولو اویا سا تلو سره په کار اچوي .-«**مارکس**» دغه اصل د یو طبقي دیکتا توری پر بل طبقه باندی تشخیصوی .

پانګوالان د ژوند کولو ټول لاری چاری کنټرولوی یا تر خپل ولکي لاندی نیسي، نو که چیری دوی په کا ل (1875) کی هر چیری دغه کنټرول په کا فی اندازه سره نه وی پلی کړی یا نه وی

*تر لاسه کړي نو « کارل مارکس » داسې تشخيصوی يا منی چې هغوی ددی کا ر د سرته رسيد و په لټه کي دي . ځمکه او ماشين الات خصوصی شتمنی دي اوپه زياتيدونکي بنی سره د يو شمير خلکو په انحصار کی ولويږي اود کار نور ټول محصولات هم په همدی شان سره . نو که تا سی چيريد توليد ابزار اويا دعايد راوړونکي ځمکی خاوندان يا ما لک نه يا ستي او غواړي چي ژوند وکړي ، نوبا يد چي خپل د (کار نيرو) ددغه سرمايه دارانو په مشرانو با ندي خرڅ کړي ـ نو په دی صورت کارګران له يوسره د امان يا د رحمت طبقی(يعنی غلامان يا بردګان) د سرما يه دار طبقی دي .« **مارکس** » پخپل کتاب يعنی کا پيټا ل يا سرمايه داری کي وليکل : [ تا سی کولی شي چي د «مارکس» د يادونی يا ليکل شوی بنبړ متن د (اجوری ) ،(قيمت) ، او (سود) موضوعاتوتر عنوان لاندي چی ذکر شوی ولولي ] چي سرمايه داران خپل استخدام کړ شوی کارګرانو ته معشيتی اجوره يا دستمزد ورکوی اود يو ټاکلی مودی يا مهال لپاره دکار نيرو را پيروی (خريداری کوی) کوم چی نن په متحده ايالاتو کی دغه د کار زما ن او يادکار ټاکل شوی د مهال اوږد يا دوام (8) ساعته دي اوپه دي ټاکل شوی (8) ساعتو کي چي کارګران هر څومره کار وکړی اويا هر څومره توليد کړي هغه ټول محصول سرمايه دار ته رسی يا سرمايه دار ته تعلق نيسی.*

*په دی ا ټکل شوی موده يا مها ل کي ورکړ شوی يا تاديه شوی معشيتی دستمزد يا اجوره دهغه کارګرد ټول توليد شوی محصول د**ارزش** له اندازی څخه ډير ټيټ يا کم دي ، يعنی چي کارګر دخپل معشيتی اجوری په نسبت زياد اضافه ارزش توليد کړي کوم چي دسرمايه دار پواسطه سره هغه اضافه ارزش غضب کيږي و.*

*اجازه راکړي چي ووايوو: څلور ساعته ( که څه هم نن ورځ ددی په پرتله خورا لږ دي) نو که چيری کارګر د (8) ساعتو لپاره سرمايه دار ته کار وکړي نوپه واقيعت کي هغه په لمړيودکار (څلورو ) ساعتونو کي خپل دهغه ټاکل شوی اجوری د ارزش په مقياس توليد کړی او (څلور ) نور ساعتونه سرمايه دار ته پرته له اجوری کار کړي دي اودا هغه څه دي چي «**مارکس**» هغه د (اضافه ارزش ) په نامه نومولي دي کوم چي دا د پانګوالی دګټی اصلی سرچينه يا مبدا او منشا دي. دکار وخت دهغه وخت ها خوا مصرف شوی چی کارګران يي د خپل معا ش تر لاسه کولو لپاره کارکوی نودا په حقيقت کي( آزاد) کاربی داجوری د پرداخت يا دورکولو کار کول دي چي د پانګوالو پواسطه سره تنظيم او کنترول کيږی .« **مارکس** » پخپل نيوکو کي د طنز يا دکنايی په بڼه ليکي : « چی اجوريی يا ورځنی مزدبګير کارګر اجازه لری چی دخپل ژوند دبقا لپاره کاروکړي يعنی دژوند لپاره يواځی په هغه ځای کي چي هغه د ټاکلي وخت لپاره سرمايه دار ته کارکوی ....... داچی دمزدورانو ټول سرمايه داری نظام دغلامی سيستم دي اوپه حقيقت کي دغلامی يا دبردګي سيستم چي دکار ټولنيز توليدي قواوي وده کوی په تناسب کي خورا جدي کيږي که چيری کارګر ښه يا بد دستمزد يا تاديه تر لاسه کړي .*

*نن ورځ زموږ واکمن د « **مارکس** » د **کار نظريه** په پام کې نيولو څخه انکار کوي ، او د دې پرځای د "**دندې جوړونکي**" په توګه د اعتبار ادعا کوي مګر هيڅکله د دې مسؤليت په غاړه نه اخلي کله چې دوی توليد ته مخه کړي او کارګران يې په بې رحمانۍ او فشار کې پريږدي يا په لويه کچه يې په خپلو جګړو کې وژني .د ګټې لپاره .سربيره پردې ، دا نظريه چې د طبيعت سره په متقابل عمل کې د انساني کارګر ځواک ټول ارزښت رامينځته کوي ، زموږ د خبرو اترو څخه ورک شو ، په عمومي ډول د اتحاديو او کارګرانو ځواک سره ، که څه هم کارګران لا نه دي وتلي .په حقيقت کې ، له دوی څخه ډ ير څه شتون لري ، ځکه چې په نړۍ کې ډير خلک يوازې د دوی د کا ر ځواک پلورلو سره ژوند کولو ته راکم شوي ، کله چې دوی کولی شي.*

*په هر صورت ، د ګټی په لټه کي ، اصلی تناقض په« کا ر » کي دي ، سرمايه داران په بازار کي د ونډی د ترلاسه کولو لپا ره پخپلو مينځو کي سيا لی يا رقا بت کوي، دا مسله هر چيري اود نړی*

په سرتاسر کي شتون لري . دا سيا لي کولای شي چي په نها يت کي په جنګ واوړي ، اما سرما يه داران هغه څه چي توليد وي نو هغه شيا ن با يد په بازار کي عرضه کړي چی د هغو مشتريا ن يا پيرودونکی څوک دي ؟ آيا دوي يعنی پانګوالان کولی شی چی دا ټول شيان (کالی) په زياتو پيسو باندی پر هغو مشتريانو باندي وپلوری چي هغوی دهمدی سرمايه دارانو په شان شتمن وي ؟ يا داچي دلته بل کوم يو لوی بازار شتون لري چي د يري مصرف کوی ؟يا د يرد پيريد لو توان ولري ؟ صنعتی پانګوالي، د ډله ايز بازارونو رامينځته کيدو ته وده ورکړ ، کومچي دمصرف کونکو په لاس کي پيسی (د هر څه نه وروسته بازار څه ده ؟) يو «شکلی بی پری پانګوالی کلمه» کوم چي دهغه سره دهغه د لګښت دضرورت نياز ليدل کيږي ، **کنيز** (Keynes) هغه ته د (اغيزمن تقاضا) نوم ورکړ ، مګر دا څه را پيښوی يا څه پيښ کيږي ؟ کله چي د کارګرانو معا شونه د مصا رفا تو د کمولو په سيا لي کي د کمولو ليا ره په نښه کيږي . سره دهغه هم چي يو انفرادی سرمايه دار وشی کړي ، چي توليد ی مصرف را ټيټ کړي نو په بازار کي به دهغه ونډه زيات اودهغه په څنګ کي به ډير سود تر لاسه کړي ، حا ل داچي انحصاری قيمت ګذاری په هر زمان اود تنظيم په صورت کي فقط يواځی دزيا ت سود يا ګټی موجب کيږي، نو دهمدی دليل په نظرکي نيولو سره ټول سرمايه داران دارزان کار دنيرو اود کم قيمت اوليه موادو د را نيولو په لټه کي ولويږي اوداسی ما شين يا ما شين الات په کا ر اچوی چي د توليد په جريا ن کي د لږ کا ر په سرته رسولو سره زيا ت توليد وکړي . چی د خامو موادو اود مصرفی توکو مصرف را ټيټوی اوهم کارګران بی ځا يه کوي ، اما دا پخپل وار سره د ډير بی حده زيات توليد موجب برابروي ، کوم چی ددی خورا سخت بيلګه په لوی بحران (رکود) کي ترسترګو شو ،[ تر هغه ځايه چی توليد شوی غذايی مواد کوم چي نادار خلک ورته نياز لرل ، هغه مواد غير قابل فروش وشو يعنی دهغه خرڅلاو بند شو ، غذا هدر شو يعنی چي ( تيار غذايی فصلونه قلبه شو يا واړول شو ، شدی توی شول او خوګان (څناوری) له مينځه ويوړل شو ] .

هغه څه چي مونږدسرمايه داری نظام دی ډول دتوليد شيوه (mode of production) ته ګورو نو دی پايلي ته رسيږو ، چي لوي شتمنی دڅو پلوتوکراتانو (plutocrats) په لاس کي متمرکز اود نړی لوی جميعتونه يا نفوس په زيا تيد ونکي بنی سره د نيستی اود فقيری په خوا را کښل کيږي ، چی دا دقيقاً همغه شان دي کوم چي «**مارکس**» لا دمخه وړاند وينه کړي وه اوهغه داچی د نن ورځی کارمندان چی دندی لري دايماً په نا ډاډه زړه خپل شا ته ګوری چي دبيکارا نو په لښکر کی را ښکيل نشی او خپل دنده دلاسه ورنکړي ؟ دغه په حا ل د پراخيد و شرايط دکارګرانو لپاره دنوي ليبل (چسپ =Label )را مينځته کيد و لامل شوی کوم چی دنړی اقتصاد کي دکارګرانو موقيعت دهغو ديرولتريت نوم سره په ترکيب کي تشريح کوي چي نا مطمين اود خپل عا يد په اړه بی باوره دي . مونږ کولی شو پخپل ياد کي را ولو چي متحده ايالات د تيرو (40) تر (50) کلونو په اوږدو کي چي دپانګوالی دولت د لته لوبيد لی هغه څه دي چي په دی موده د کا رګرانو د مبا رزی په رڼا کي لاسته راوړنی دنوی معا ملی څخه ترد شپيتم (60) او اويا يمی (70) لسيزو پوری کمزوره شوی يا چي ويجاړ شوی . په داسی حا ل کي کوم چي يولړ مقررات تر يوه حده پوری دوالستريت اودلويو بانکونو له خوا کنترول کيد لي ،لکه د چاپير يال ،يا د روغتيا يی حالاتو څخه محا فظت کول هغه هم له مينځه لاړ چي دهغه له جملی څخه خصوصاً ( خواړه ، اب وهوا ) ، نن ورځ زمونږ د ما ليی زيا ت پيسي د نظامی صنعتی مجتمع يا د لويو شتمنو شرکتونو ، لوی نهادونو او د رسنيو د خاوندانو جيبونو ته غورځيږي چي په رواني سيا سی ډ ګر کی تسلط اوبر لاسی لري .

«**مارکس**» يو سل وپنځوس کاله مخکي دغه ټول مظاهر وليد او هغه يی تر خپل تحليل او تجربی لاندی قرار ورکړ اودا سي يی وموند چي دا ټول شيا ن يا مظاهر د سرما يه داری د توليد د شيوی (mode of production) محصول دي ، هغه همدارنګه په «مانيفست او کمونيست » کی دغه ټکی په ګوته کړ چي سرمايه داری پخپله انقلابی تحول د سو سياليزم او کمونيسم لپاره شرايط چمتو کړی اود کارګری طبقي يواځنی هغه ځواک دي چی د دی امر په پلی کولو کی غښتلتيا يا توان لري هغه

یعنی «مارکس» خپل دغه بینش (نظر) ته دنیوکی په نقد کي دوام ورکړ ، هغه یادونه وکړ ، چي د (ګوتی برنامه) بی پری غیر قابل انکار وړاندیز لري : او هغه داچي دکار پرمختګ سره د پانګوالو لپاره متمرکز دولت او کلتور را مینځته کیږی ، په بیله بیا د کارګرانو لپا ره بیوزلي او بیوزلی نادار کارګران را مینځته کوي ، مونږ اوس دوه سوه کا له کیږی چی سرما یه داری لرو مګر دغه پورتنی نمونی لا تر اوسه په نړی کی حاکم دي ، «**ما رکس** » لیکي چي : دا شیان تر اوسه پوري د ټول تاریخ قانون دي، بناْ هغه څه چي باید دلته تر سره شوی وای ، د (کار) اود(ټولني) دکلی عباراتو د تنظیم پر ځا ی دا وه چي ثا بت شي ،چي څرنګه د سرما یه داری په ننی ټولنه کي مواد او نور شیان بالاخره شرایط داسی رامینځته کړي چي کارګران د دی اجتما عی نفرین اود سپکا وی د لغو یا د له مینځه وړلو لپا ره څه کړای واي ،د« **ما رکس** » منظور دادي چي د استثما ریا دبهره وری بی حده زیا توالي چي سرمایه داری را مینځته کړي ، اوس د ټولو د نیا زونو یا د ضروریا تو دا مکا ن ویش د کا رپه واسطه سره د ایجاد شوی محصولاتو توزیع چي دکا ر د« نیرو = قوت» پواسطه سره رامینځته شوی د کا ر د مشترک منا فع په مطا بقت دی اجرات وشی ، دا په ښکا ره بڼی سره په نړی کي یو بد لون مېند ونکی لړلید دي اوبیا په ځانګړي بڼه کله چي **پیټر لینی بوګ** (Peter Linebough) دنظر سره د کار اود طبیعت او ددوی دروابطو په اړین د پوها وی ضرورت او نه د سرمایه داری داستثما ر دمنبع ترمینځ د مبا دلی سره یو ځای شی – مونږ پخپل عصر یا زما نه کی د کالیو له حده زیات تولید کوم چی دهغه بیهودګی ټولو ته مشهود دی په رڼو سترګو ګورو – مګر دا موضوع هغه څه څاری یا تعقیبوی چي مونږ دپانګوالي د سیا لی اود رقا بت په برخه کي ورڅخه مخکی مو یاده کړ او هغه هم دیو منا سب توصیف په بڼه یو سیستم دي کوم چي یواځی د یو څو معدود شمیر کسا نو د سود لپاره ، انحصار ، اوله حده زیات د سرمایه داری نظام پواسطه سره دکا لیو تولید صورت نیسی کوم چی دا پخپله د بحران اود رکود موجب ګرځی یعنی چي دوره ای بحرانات مینځته راولي تر هغه ځا یه چي خلک له خپل غوښتنی (تقاضا) څخه محروم او ډلی ډلی وږی او بی کوره کیږي کوم چی دغه دوره ای بحرانونه دتاریخ په اوږدو کي نوماند یا نومول شوی دي ، اوبیا وروسته همدغه بحرانونه خلکو ته سرخوږی او تشویش را مینځته کړي کوم چی دهغه څخه را پیدا شوی خپګان یوهم دا دي چی نن داقتصادی بحران سره مخامخ یوو یا دهمدغه لوی بحران چی دهغه ناوړی تاثیرات له کا ل (2007) تر (2008) را مینځته شوی لا تراوسه دوام لري .

« **مارکس**» دنیوکی یا دخپل انتقادونو په نقد کي د **(لاسا ل)** د نظریو پر ساده ګی یا د هغه پر دی ساده لوحا نه نظرونو ،هغه څه چی په یوه سیوسیالیستی انقلاب کي شتون لری یا چي سوسیا لیستی تحول پوری اړین دي اودهغه پواسطه ځانګړی عباراتو په کار وړل لکه د کار دمحصول څخه عاید ........ « **مارکس**» لیکی د کا ر عواید څه دي ؟ د کار محصول یا دهغه ارزش؟ اوپه وروستی واقعه یا حالت کی ، ایا ټول یا کلی ارزش محصول دی یا چي یواځی د هغه ارزش یوه برخه دي ؟ چي دکار نیرو دتولیدی مصرفی وسایلو په ارزش باندي تازه اجول یا زیات کړی شوی دی ؟[ اومه مواد اوماشین الات]؟ **د کا رد محصول څخه عا ید یو کمزوره او سست مفهوم دي ،چي (لاسال) داقتصادی مفاهیمو پر ځای په ځا نګړي توګه پر ځای کړي .** « عادلانه ویش څه شی دي ؟» آیا بورژوازي دا ادعا نه کوی چي ننی ویش یا توزیع « عادلانه نه دي ؟» **اوآیا په حقیقت کي یواځی « عادلانه» ویش دننی ورځ دتولید دشیوی (mode of production) پر بنیاد نه دي** ؟ آیا ا قتصا دی روابط دحقوقی تصوراتو سره تنظیم کیږی ؟ یا دهغه برعکس ، خصوصی روابط له اقتصادی روابطو څخه نه را مینځته کیږی یا چی نه را پورته کیږي ؟

« **مارکس**» د خپل سوالونو د طرحي په دوام یو لړ نور اضا فی سوالونه هم د (لاسا ل) د توزیع د طرحی په ارتباط وړاند کوي : اودا دهغه څه لپاره درس یا لوستل دی چي دوی د « **ما رکس**» دپیچلی پوهه په اړه څرګندوي چي په کارګرانو کي په څه بڼه شامل وی چي په کلی یا ټولیزه توګه

د تولید دشیوی (mode of production) دبدلولو په لټه کي دي ، ارزش لری ؟ د دی موضوع نقل قول کول ډیراوږد وخت په برکی نیسی (چی ددی لیکنی له زغم څخه وتلی دی ) که څه هم « مارکس» ددی موضوع پرروښانه کولو با ند ی پیل کوی چي د (بشپړ تولنیز محصول) څخه مخکي له دي چي هغه محصول خلکو ته یا پر تولید کونکو باندی وویشل شی کوم چي یی تولید کړي ، نو با ید د تولید ددوام لپاره ځنی تخفیفونه (کسر) ورکړل شی اود اداری لګښتونو لپاره تخفیفونه دهغه کارګرانو لپاره تخفیفه (فنډونه) چی دکا ر کولو توان نه لری او همدارنګه داړینو عمومی نها دونو رضا یت لپا ره لکه دښونځیو ل|ښتونه ، روغتیایی خدمات او داسی نورو لپاره ټاکلی مالی وجوه ..د پیل څخه دا برخه د نن ورځی دټولنی د لګښتونو سره پرتله کولو کي کوم چی د پام وړ وه او یا وړ دی اویا چي وده کړي د هغه تنا سب څنګه چي اوس دا نوی ټولنه وده کوي په پام کی ونیسو نو په یاد ولري چي (مارکس) شاوخوا (150) کاله دمخه دښونځی اوروغتیا یی چاری دپاملرني لپاره اوددی اړتیا په اړه لیکلی وو او نن ورځ مونږ چیرته یوو؟

« مارکس» همدارنګه دکارګری انقلاب په مورد کي په بحث او تشریح پیل کوي ، او وایی چي کارګری انقلاب په دوو پړاوو یا مرحلو کی صورت نیسی : لمړي داچي سوسیالیزم (کا ر) په پیسو سره اندازه ګیری نه کوی؟ [ د دستمزد یا داجوری سیستم په ختمید و یا په له مینځه وړلو کي اجوره یا دستمزد هم ورک کیږی] اماد کا روخت یا زما ن شکل دیو بل مساوی کار د شکل سره مبادله کیږي ... سره ددی پر مختګ دا برابر حق لا تراوسه په دوامدار بڼی سره د بورژوازي محدود یت په عنوان لکه دار (stigmatised) کیږي . دتولید کونکي حقوق د کا ر د نیرو د تنا سب په برابری په دی واقیعت کی انغښتی دي چی د کار اندازه ګیری د کار دیو برابر ستاندارد سره تر سره شي ، او په کار ګمارل شو یا استخدام شو ته دتصدیق لیکونو په لرلو سره حقوق ورکړل شی ، چي ددوی دکا ر وخت وساتی یا له هغه څخه پیروی وکړي دهغه څه لپاره چي داړتیا په وخت کي تولید شوی وخت یا مهال سره په مساوی مقدار تبادله شي ، په خاطر کی با ید اووسی چی د پیسو په نشتوالي کي په بانکداری ، مالیه ، سود او نورو کي څه پیښیږی؟ کومچی مارکس لږ ترلږه په یوه برخه کی هغه ته پرازیتی ژوند نوم ورکړي دي یا ګڼلی دي .

«مارکس» په ګوته کوي چي په دي لمړي مرحله یا پړاو کي ، دانقلاب نه سمدلاسه وروسته مطلق مساوات امکا ن نه لري یعنی چي خلک ورته او یوشا ن ظرفیت نه لری اوپه دي «توګه» د کا ر د نیرو په برابر کړنی یا فعا لیت [ددندی په مهال اندازه ګیری] سره بیا له دی کبله برابر ونډه دزیرمی شوی ټولنی له خزانی یا صندوق څخه یو له بل په نسبت زیات پیسی ترلاسه کوی چي په دی ډول هغو چي زیات پیسی ترلاسه کوی ممکن چي شتمن شی ، نو ددی ډول نقصونو څخه مخنیوي باید دبرابری پر ځای نابرابری اووسی ، په دی ځای کي «مارکس» دسرمایه داری قدرت احمقا نه عقلا نیت یو خواته پریږدي چي وایي یعنی پا نګوالان وایی: «له هغه ځا یه چي مونږ دافرادو په عنوان پخپل ظرفیتونو کي نابرابر یو ، دا په دی معنی دي چي مونږ نشو کولی انتظار ولرو بلکه یواځی ، طمع ، دشتمنی اودقدرت تمرکز ، یعنی سرمایه داری نظام دبشریت دبریالیتوب په عنوان کو م چي باید هغه ته ورسیږو یا ورته د ستر سی پیدا کړو .......» ( مار کس) دی مسلی ته دا ځواب لري چي سوسیا لیزم ددی ادعا په ځواب کی یو ګام دي !

د یو سوسیا لیستي ټولني لمړني تا سیس یا ا یجا دید و با ندي «ما رکس » دا سی روښنا یی اچوی او وایی چی د انقلاب د انقلابی کارګری طبقی انقلاب دي ، تولید کونکو خپل تولیدي محصولات سره نه مبا د له کوي په همغه اندازه چي دمحصولاتو په تولید کي دکار نیرو پکار وړل شوي ، دلته دهمدی محصولاتو دارزش په اندازه دیو مادی کیفیت په عنوان چي دهغه پواسطه سره په لاس راځی لږ په نظر رسي، ځکه چي اوس دسرمایه داري د ټولني په مقایسه نور نو فردی کا ر په غیر مستقیم بڼی سره وجود نه لري ، بلکه مستقیماً دکلی «ټولیز» کار یو جز یا یو برخه دي....... کوم چي دلته باید دهغه سره سروکار لرو ، هغه یو کمونیستی ټولنه ده ، هغسی کوم چي پخپل بنیاد کی وده کړي ، اما

برعکس هغه څه چي د سرمایه داری ټولنی څخه را پورته کیږي ، دا په هر لحاظ ، اقتصا دی ، اخلاقی او د فکری په لحاظ اوس هم د زاړه ټولني دزیږون نښه ده چي له کوم رحم (زیلانځ) څخه را مینځته شوی یا زیږید لی دي .

« **مارکس**» خپل څرګند ونی ته ادامه ورکوي او وایي: ا ما دغه نقا یص یا عیبونه د کمونیستی ټولني په لمړی پړاو یا مرحله کي حتمی یا اجتنا ب نا پذ یر دي ، حق هیڅکله نشی کیدی چي د ټولني له اقتصادی جوړښت اودفرهنګی له ودی څخه پورته اووسی، دکمونیستی جا معی په لوړه یا په مخکي تللی مرحله کي دکار ویش دفرد دغلامی فرمانبرداری نه وروسته او همدارنګه د ذهنی اود جسمی کار ترمینځ ضد یت له مینځه ځي ، وروسته بیا له هغی دا نه چي (کار) یواځی دژوند وسیله دي بلکه (کار) د ژوندانه اصلی ضرورت اونیاز ګڼل کیږي ، وروسته له دی چي تولیدی قواوی هم دفرد هر اړخیز پرمختګ سره وده کړي اود تعاونی ټولی سرچینی په پراخه کچه جریان لری [ ځما تینګار یا تا کید ] نو بیا یواځی دبورژوا حق له تنګه یا محدود فکری افق څخه په بشپړه بڼه تیرشو یا عبور وکړو او هغسی ټولنی ته ورسیږو چی دهغه شعار : **« دهرچا څخه دهغه وړتیا « توانا یی» سره سم هر یوته دهغه دنیاز په مطا بقت » دی .**

«**ما رکس**» ددولت اودهغو په اړه چی په دولت کي دخد مت کولو سره مینه لري ( په واضح توګه بورژوازی او لوی مالکین)، د لته « **ما رکس** » له سره د **( لاسا ل )** په اړه بحث ته را ګرځي ، اودا ځکه چي داسي په نظر راځي چي هغه یعنی **(لاسال)** غواړي چي د **جونکر**( = Junker= الما نی اصل زاده ګان) ما لکا نو سره د سرما یه داری په وړاندي اتحاد وکړي ، دا دختیځ آلما ن د ځمکی لرونکي ما لکین دی چی د « **بسمارک** » تر مشری لاندی دغتو یا دلویو سرمایه لرونکو سره متحد شی، دا په اصطلاح د « اوسپنی او د جودر یا تور غنم واده دي» چی د کارګرانو سره مخامخ شو ، حا ل داچي د «**لاسال**» ایده یا نظر ددولت د قدرت د ماهیت په اړه اودهغه د نه منل له یو منل شوی بین المللی استراتیژی چي د آ لما ن کا رګران داقتصادی اوسیا سی له نظره دلوی تجارت په معرض کی قرار ورکړ، د ( **هتلر** ) تر زمان ، دآ لما ن سوسیا ل دموکرات ګوند (SPD) خپل هڅی او اند ته چی د **وایمار** (Weimar) جمهوریت سره خپل اتحا د وکړی کوم چي د لوی تجا ر **جونکر** دقدرت اخری تجلی یا څرګند نی وه دوام ورکړ ، چي دنړی په لمړي جګړه کي کوم چي دهغه جګړي په سرکي د **جونکر** عمومی قوماندان **جنرال اون هند نبرګ** (General Von Hindenburg) وو ، د آلمان سوسیال دموکرات ګوند دنازیانو په وړاندي د کمونستانو (KPD) سره له اتحاده ډډه یا انکار وکړ په داسی حا ل کي چي **جنرال هند نبورګ** ، **(هتلر)** ته دحکومت جوړولو بلنه ورکړ ( **هتلر** د جمهور ریس په عنوان رای تر لاسه نکړ مګر د صدارت یا د **چا نسلری** مقام یی را مینځته کړ ) چي یو څه ورته یا یوشان د**جورج دبلیو بوش**(George W. Bush) په څیر په کا ل «2000» کی لرل اویا لکه («**ترامپ**»چي نن غواړي چي هغه ته را پیښ شي یا دا ډول ا تفا ق ولویږي) د هغو پا یلو سره کوم چي مونږ ټول ورباندي پوهیږو.

د « **مارکس** » خبری اتري هغه څه کوم چي « **مارکس**» هغه ته د بورژوازی دموکراسی نوم ورکړ وجود لري ، چي دهغه په نظر دهغه بیلګی یا نمونه په دي وخت (1875) په متحده ایالاتو کي غوره مثا ل شوی وه ، او لږ تر لږه داسي په نظر راتلل چي کا رګرانوته دآزادی اجازه ورکوی چي دآزاد کار ګری لپاره سازماندهی وکړي ، او حد اقل دا ډار نه وه موجود چي کولي شو یواځی کارګری قدرت دپا رلمان له لاری تر لاسه شي ، هغه یعنی « **مارکس**» پرولتاری دیکتاتور ی وغوښتل چي د بورژوازی دیکتاتوری دقد رت په مقا بل کي لاربښود شوي او اړتیا ورته لري چي دا با ید لمړي دکارګرانو دانقلاب د زور په مټ سره ما ت شي یعنی د بورژوازی دیکتاتوری . که څه هم «**مارکس**» هیڅکله فکر نه کاوه چي انقلاب به پخپله دپانګوالي طبقي دوروستی ما تی معنی ولري ، یعنی چي دوي «بورژوازی» به دانقلاب وروسته بیا هم دوام وکړي ترڅو چي دځواک د بیرته تر لاسه کولو لپاره هڅه وکړي ؟دهغه وروستي ځل یادونه کول : د پانګوالي او کمونیستی ټولني تر مینځ یو بل

ته دانقلابی بدلون دوره پا تي ده ، دی سره مطا بقت هم دسیاسی لیږد دوره ده ، په کوم کي چي دولت دپرولتاريا انقلاب دیکتا توری پرته بل هيڅ نه شی کیدی .

په ښکاره ډول ، دنړی کارګران لا هم اوږده لاره په مخه لري ، تر څو په دی حا لت کي وي چي دسرمایه داری حاکمیت له واکه وغورځوي نو و ددی هد ف ته تر رسیدو به د ډير ما تي سره مخ کړي ، چي دهغه له جملی څخه دانقلابی بد لو ن لپا ره اړين نظرونو څخه يي بی برخي پا تي کيد ل ، او نن ورځ دا دنړیوال اقتصاد دمسول پانګوالی سیستم دتخریبی تما یلاتو ترمینځ سيا لي ده ، چی د ګټو بی پایه جریان پرته له کوم بل هڅونه پرته دکوم شي لپاره دا باید بی پا یه جګړه ، چا پيريال ویجاړتیا اود کار تلپاتی غلامی ته غاړه کیږدی که چيري غير محرم پاتی شي . د تولیدی پانګوالي حا لت (mode of production) زيان اوحتی دا نسا نی نسل له مینځه تللو ته به لاړ شی په بد یل توګه: ددوی پا تی د کا ری تولګیو لپاره دنړی په کچه بریالی سازمان ا مکا ن لری تر څو د تولید نوی تولنیز (mode of production) رامینځته کړي که دوی کولی شي دا سی بد لون لپاره اړين نظرونو ته لاسرسی وومومي ، دا مها ل لو ی سخت جنګ دي مګر په نژدی راتلونکی کي : د «کارل مارکس» مراقب اوسی یا د هغه وړاند وینی وڅاري .

**------------------------------------------ په درنا وي « 04-12-2020»**